هاري                                                                 واشنګټن ۲۰۰۹/۷/۳۱

# د انتخاباتو دوهم پړاو؟

غربي مطبوعات په زیاتېدونکې توګه په افغانستان کې د جمهوري ریاست د انتخاباتو د دوهم پړاو په اړه خبري کوي. په اغلب ګومان به انتخابات دوهم پړاو ولري ځکه په لمړئ مرحلې کې به رایې پر څو کاندیدانو باندې تقسیم سي، او هیڅ کاندید به ټاکلې فیصدي برابره نکړي. البته، پدې شرط چې ټول کاندیدان تر انتخاباتو مخکې یو بل ته تېر نه سي. خو په هرصورت، دمګړی د دوهم پړاو احتمال ډېر قوي بربښي.

بلخوا، زه عقیده لرم چې پدې انتخاباتو کې به د ښاري خلکو ونډه ډېره مهمه وي، ځکه له یوې خوا په لوی ښارونو کې لا اوس هم څه امنیت سته، د رایه اچولو لپاره څه امکانات سته، او هم به د انتخاباتو د نظارت لپاره بین المللي څارونکي حضور ولري. بل پلو، په لویو ښارونو کې داسې خلک لا سته چې د انتخاباتو سره څه علاقه لري اوغواړي چې رایه ورکړي. یوازې په کابل کې د ځینو احصاییو په اساس درې –څلور میلونه خلک ژوند کوي. هرات، مزار شریف، جلال اباد، کندهار، او د څو نورو ښارونو نفوس د پخوا په پرتله څو برابره سوی دی. ټول پوهنتونونه او مهم تعلیمي تاسیسات په لویو ښارونو کې دي. لنډه دا چې ګرده حکومتې دفترونه او ادارې هم په ښارونو کې دي.

نو بنا، په انتخاباتو کې به د ځوان نسل او محصلینو ونډه او مسولیت خورا درونډ وي. همدااوس لا په ځینو پوهنتونو کې د اشرف غني او نورو کاندیدانو په ملاتړ غونډې او د کمپېن هلې ځلې رواني دي. په ځینو مواردو کې افغان ځوانان د انتخاباتي مرکزونو پر شاوخوا متشکل کېږي. که چیرې همدا لړئ د هېواد نورو پوهنتونونو، فرهنګي او اجتماعي محفلونو، د مېرمنو ټولنو، عالي او تخنیکي موسساتو، او لنډه دا چې د مدني ټولني نورو برخو ته وغزېږي، د حامد کرزي ماته سل په سل کې حتمي کېږي. هغه همدااوس لا وارخطا او نامطمین دی او له مناظرې او مخامخ خبرو څخه پټېږي.

مطلب مې دا دی چې په لویو ښارونو کې منورین، استادان، لیکوالان، محصلین، معلمان، مامورین او د مدني ټولني اکثره ارګانونه سته. ښاري او باسواده خلک به په راتلونکي انتخاباتو کې محوري نقش ولوبوي. هر کاندید چې دا خلک د ځان کړی انتخابات ګټي، البته پدې شرط چې انتخابات ازاد، شفاف، او منصفانه وي.

غواړم چې پر یوه ټکي ټینګار وکړم او هغه دا چې د اګست د ۲۰ مې په انتخاباتو کې به ښایي افغان ځوانان او محصلین مخکښ رول ولوبوي. په لبنان، ایران، اندونیزیا، او حتی د امریکا په انتخاباتو کې همدې نسل فعال نقش ولوباوه. د هېواد په سیاسي ژوند کې د ځوانانو برخه او ګډون حیاتي اهمیت لري. په ځوان نسل کې د سیاسي شعور خورېدل،د ګډ کار او همکاري روحیه ټینګېدل، او د اجمتاعي مسولیت احساس غښتلي کېدل په یوه ملک کې ثبات او پرمختګ تامینوي. دغه راز، د هغوی فعال ګډون د مدني او سیاسي جوړښت اډانې لا غښتلي کوي. او په عین حال کې سیاسي پروسې ته زوړ او ژوند ورکوي. پدې ګڼه کې د ټولو رپوټونو اجمال راغونډ سوی دی.

د شیکاګو ټریبون اخبار د جولاې پر ۲۹ مې لیکي: شپږ اونۍ پخوا، حامد کرزی یوازنی کاندید ښکارېده، خو اوس د افغانستان انتخابات کرار کرار د یوې واقعي انتخاباتي مبارزې ترا کوي. د حامد کرزي دواړه رقیبان د بدلون نارې وهي او د بدلون خبري پر خلکو ښه لګېږي، ځکه اکثره افغانان د اوسني حکومت څخه خواتوري او ستړي دي.

په کابل کې، د متحده ایالاتو د سولې انستیتوت غړی او د انتخاباتو د چارو ماهر، جان ډمپسي، وایي،"یوه میاشت یا شپږ اونۍ پخوا، ما به ښایي ویلې وای چې نه بابا د دوهم پړاو هیڅ امکان نسته. مګر اوس داسې ښکاري چې مخالفان د یوه یا دوو کاندیدانو پر شاوخوا راغونډېږي. موږ ښایي ښه او خوندوره انتخاباتي مبارزه وګورو."

د ډیموکرات د ګوند وتلی ستراتیژست او د اشرف غني د کمپېن سلاکار جمېز کارویل وایي په افغانستان کې سمه سروې نده سوې او نمبرونه ټول غلط دي. هغه د خپل باس د کامیابۍ په ارتباط ډېر خوشبین او هیلمن ښکاري. هغه وایي، "په انتخاباتو کې به زوړ او شور وي."

ددې مبارزې يو مخکښ کانديد اشرف غني دی. هغه په شرق او غرب کې ځان هوسا او اشنا احساسوي. د هغه انګريزي پرفيکټ او پالش سوې ده. هغه لس کلن اقتصادي پلان لري چې د ښځو له حقوقو څخه نيولې بيا د فقر او بېکارۍ تر ختمولو پورې پکې بيان سويدي. هغه زياتره په افغاني جامو کې را وځي او د قبايلي مشرانو سره د هغوی په ژبه خبرې کوي.

اشرف غني وايي، " بلې هو، زه د شرق او غرب توليد يم. هو کې، ما په غرب کې ژوند کړی دی، خو ما دغه راز په کليو کې هم ژوند کړی دی." هغه ٢٤ کاله په مهاجرت کې ژوند کړیدی. ډاکټر غني اضافه کوي، " زما په ياد دي چې زما د نيکه کره به د کوچې مېلمنو سره په څونه عزت او درناوي چال چلند کېده. زه خپل کلتور پېژنم. زه پخپل دود او نرخ خبر يم." هغه د انتخاباتو په اړه مخکنۍ سروې ردوي، وايي، "افغانان ما يو جدي کانديد ګڼي. همدا اهميت لري او هر څه پر همدې موضوع راڅرخي."

بلخوا، د ګارډين ورځپاڼه د جولاې پر ٢٩ مې پخپله سرمقاله کې له افغانستان څخه د امريکايي او برتانوي عسکرو د رااېستلو خبرې کوي. ورځپاڼه ليکي ښاغلي اوباما همدا اوس لا له افغانستانه د راوتلو پر ستراتيژی باندې فکر کړی دی. په لندن او واشنګټن کې ، د طالبانو سره خبرې کول مهم پلويان لري.

ګارډين ادامه ور کوي او ليکي پدې ستراتيژي کې حد اقل يوه لويه کمزوري سته. هغه دا چې هر څه د کابل د حکومت او طالبانو پر خبرو راڅرخي. د همدې هدف لپاره د اګسټ د مياشتې انتخابات حياتي اهميت لري. که چېرې حامد کرزی بيا انتخاب سي، د هغه انتخاب به يو مهم سوال مطرح کړي: ايا د هغه حکومت به دننه په ملک کې دونه اعتبار ولري چې يوه سياسي روغه جوړه ټينګه کړي؟ زياتره افغانان ښايي د خپلو قومي او محلي مشرانو پر خلاف رايه ورکړي. مګر که چېرې حامد کرزی انتخابات وګټي، طالبان به د جنګ د دوام لپاره غښتلي دلايل ولري. پدې صورت کې به واشنګټن په سخته مضيقه کې وي ځکه د کابل د فاسد حکومت پاليسي د پرابلوم يوه برخه ده، نه د حل. د حامد کرزي پاليسي لا تر اوسه جوړ سوې نده، هغه په همدې پلمه د خپلو رقيبانو په مقابل کې د جمهوري رياست له مناظرې څخه هېڅ بېخي تېر سو. هغه اوس هم فکر کوي چې د پردو شاته په معاملو به انتخابات وګټي.

بل پلو، د بي بي سي نيوز خبري شبکې د جولاې پر ٢٧ مه افغانستان ته د متحده ايالاتو خاص استازي ښاغلي هولبروک د وروستي سفر تر عنوان لاندې ليکي ښاغلي هولبروک د افغانستان د جنګ لپاره خپل تاکتيکونه پداسي وخت کې اعلان کړل چې د جمهوري رياست په انتخاباتو کې د حامد کرزي ملاتړ په زياتېدونکي توګه را کمېږي. ښاغلي هولبروک په غزني کې خبريالانو ته وويل، "موږ له يوه داسي هېواد سره مرسته کوو چې د جنګ او تباهۍ ديرش کلن تاريخ لري او د شوروي له اشغال څخه شروع کېږي، بيا د طالبانو تر دوران پورې رسېږي، خو البته د تېرو څو کلونو کړاونه هم نه سو هېرولای. موږ خپله په پېخر اشتباهات وکړل. "

هغه زياته کړه، "جنګ يو بن بست ته رسېدلی وو. يوې خوا هم نسوای ګټلای. موږ نه غواړو چې زموږ امريکايان په همدې حالت وجنګېږي. ځکه خو موږ بدلون غواړو." ښاغلي هولبروک وايي د مخدره موادو سره د مبارزې پخوانۍ طريقي افغان بزګران زموږ په مقابل کې و درول. او هم يې هغوی ته دا فکر ورکړ چې ګواکې متحده ايالات د پښتنو پر خلاف جنګ پيل کړی دی. پښتانه په افغانستان او د پاکستان په شمال غربي سيمو کې اکثريت دي. ښاغلي هولبروک په غزني کې يوې ډلې مذهبي مشرانو ته وويل، " موږ د پښتنو سره جنګ نلرو، موږ غواړو چې د پښتنو سره مرسته وکړو." هولبروک وايي په کليوالي سيمو کې بايد کارونه خلق سي څو د طالبانو مخه ونيول سي.

بي بي سي نيوز ادامه ورکوي او ليکي په افغانستان کې د عامه افکارو سروې نسته، خو داسي ښکاري چې پدې وروستيو اونيوکې د حامد کرزي ملاتړ ورځ په ورځ راکمېږي. د هولبروک مرستيالان وايي په وروستي ملاقات کې حامد کرزی د انتخاباتو د نتايجو په باب اندېښمن ښکارېده او د بيا انتخابېدو په اړه مطمين نوو.

بي بي سي نيوز ليکي په کابل کې هولبروک د هېواد د ځينو مذهبي مشرانو سره وکتل. ددې يو ساعته مجلس په اخر کې هولبروک د مشر ملا څخه وپوښتل چې د حامد کرزي سره پخپل راتلونکي ملاقات کې هغه ته بايد څه ووايي.

د افغانستان لوی قاضي هادي شينواري ښاغلي هولبروک ته وويل،" کله کله په غوسه کېږه." هولبروک څه مغشوش غوندې سو او د هغه د خبرې د مطلب په باب يې نور توضيحات وغوښتل. شينواري وويل د خدای له ٩٩ نومونو څخه يو قهار دی. هغه زياته کړه، "که چېرې تاسو د بدو خلکو سره معامله کوئ، د هغوی سره رحم او شفقت غلط کار دی."


افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de

بلخوا، د حامد کرزي دواړه سیاسي- رقیبان ډاکټر اشرف غني او ډاکټر عبدالله- هغه په کمپین کي د حکومتي منابعو څخه په سو استفاده تورنوي. ښاغلی عبدالله وایي،"حامد کرزی پرته له پوره تګي برګي او کلپي څخه انتخابات نه سي ګټلای. که چیري د انتخاباتو نتایج غلا سوي، بیا نو هېواد په بحران کي دی. هغه په ازادو او منصفانه انتخاباتو کي قطعا د کامیابۍ چانس نلري. پدې زه بالکل ډاډه او مطمین یم." عبدالله وایي د حامد کرزي لپاره د هغه وزیران، قومندانانو، والیانو، ولسوالانو او نورو حکومتي مامورین کمپین کوي. هغه وایي د مرکزي حکومت د ناکامیامیو په خاطر عامه افغانان له لاسه ورکوو. " په یوه ښورښ او بغاوت کي چي عامه خلک بایلوئ تاسو جنګ بایللی دی."



افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de